شریعت

ورځپاڼه

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷۴ هـ.ش / دوهم پړاو ۲۰۰۰ ګڼه / سه‌شنبه د محرم‌الحرام ۲۱مه ۱۴۴۸هـ.ق / د چنګاښ ۱۶مه ۱۴۰۵ هـ.ش / د جولای ۷مه ۲۰۲۶ میلادي

فطرت: له ۸۲ زرو ډېر راستانه شوي ماشومان ښوونځیو ته معرفي شوي

د اسلامي امارت د ویاند مرستیال وایي: د تېر ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل راهیسې تر اوسه له ۸۲ زرو ډېر راستانه شوي ماشومان د سویې د تثبیت له ازموینې وروسته ښوونځیو ته معرفي شوي او هڅې روانې دي چې هېڅ ماشوم د کډوالۍ یا اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو بې‌برخې نه شي. د اسلامي امارت د ویاند مرستیال ملا حمدالله فطرت پرون پر خپله ایکس‌پاڼه لیکلي: د کډوالو د ستونزو د حل عالي کمېسیون له ۱۲ کمېټو څخه د ښوونې او جوماتونو کمېټه د راستنېدونکو ماشومانو د زده‌کړې حق ته ځانګړې پاملرنه کوي او هڅه کوي چې هېڅ ماشوم د کډوالۍ له امله له زده‌کړو محروم نه شي.

د ده په خبره: د همدې موخې لپاره ځانګړې کړنلاره جوړه شوې چې له مخې یې ټول راستنېدونکي ماشومان د یادې کمېټې له خوا ثبت او راجستر کېږي، وروسته د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له لارې په رسمي ډول د پوهنې وزارت ته معرفي کېږي.

ده زیاته کړې چې له دې وروسته د دغو ماشومانو د زده‌کړې د سویې د تثبیت ازموینه په مرکز او ولایتونو کې اخیستل کېږي او له ارزونې وروسته د هغوی د زده‌کړې له کچې سره سم په دولتي ښوونځیو او د هېواد په نورو ښوونیزو بنسټونو کې شاملېږي.

فطرت ویلي: د تېر ۱۴۰۴ ښوونیز کال له پیل راهیسې په ټول هېواد کې له ۸۲ زره او ۸۳۲ راستنېدونکو ماشومانو د سویې د تثبیت ازموینه اخیستل شوې او له ارزونې وروسته اړوندو ښوونځیو ته معرفي شوي دي. ۲مخ

رشد چشمگیر مبادلات تجاری از طریق خط آهن میان افغانستان و ازبیکستان

روند حمل‌ونقل ریلی میان افغانستان و ازبیکستان در پنج ماه نخست سال جاری میلادی، رشد چشمگیری داشته است. بر پایه آمار مسئولان راه‌آهن ازبیکستان، در این مدت بیش از ۴۱ هزار واگون، معادل بیش از دو میلیون و ۷۰۰ هزار تُن کالا، از طریق شبکه ریلی میان دو کشور جابه‌جا شده است؛ در حالی که این رقم در مدت مشابه سال گذشته ۲۰ هزار و ۴۱۵ واگون بود. این آمار نشان‌دهنده دو برابر شدن حجم حمل‌ونقل ریلی میان دو کشور است. شهرت قادروف، معاون راه‌آهن سرخان‌دریای ازبیکستان گفت: «در پنج ماه نخست سال ۲۰۲۵ حدود ۲۰ هزار و ۴۱۵ واگون انتقال انجام شد و در پنج ماه نخست سال جاری، این رقم به حدود ۴۰ تا ۴۱ هزار واگون رسیده است.» ۲مخ

روسي پانګه والو د افغانستان د برېښنا په سکټور کې پانګونې ته لېوالتیا ښودلې

د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس الحاج ملا عبدالحق د روسیې هېواد څلورو کمپنیو مسئولینو سره ګډه ناسته کې د حرارتي، ګازو او ډېرو سکرو څخه د برېښنا تولید او افغانستان کې شته تولیدي فابریکو پر سیستمونو بدلون او بیا رغونې خبرې وکړې. ناسته کې د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس ښاغلي همکار افغانستان کې د برېښنا تولید او تولیدي فابریکو بیا رغونې او

سیستمونو عصري کولو اړوند برخو کې د پانګونې شته آسانتیاوې د دوه اړخیزه ګټو لپاره مهمې وبللې او ډاډ یې ورکړو، چې د افغانستان برېښنا شرکت ټولو پانګه والو سره هر ډول همکارۍ کوي. د څلورو روسي کمپنیو مسئولینو له ډېرو سکرو څخه په نوي عصري سیستم د ګاز، برېښنا، تودوخې تولید او د حرارتي برېښنا تولید فابریکو اساسي بیا رغونه او د ظرفیت لوړول او ... ۲مخ

اشتراک در پنجمین نمایشگاه ملی و بین‌المللی هفته صنعت و معادن

وزارت معادن و پترولیم با ایجاد غرفه ای در پنجمین نمایشگاه ملی و بین‌المللی هفته صنعت و معادن، به‌منظور معرفی سنگ‌های قیمتی، نیمه‌قیمتی، صنعتی و تزئینی کشور، تشریح روند داوطلبی، ارایه معلومات پیرامون فرصت‌های سرمایه‌گذاری در سکتور صنایع استخراجی، شرایط اخذ قراردادهای معدن و معرفی سایر محصولات معدنی کشور اشتراک نمود. هدف از ایجاد غرفه در این نمایشگاه، افزایش سطح همکاری میان سکتورهای مختلف، تقویت بازار محصولات داخلی، تشویق و ترغیب سرمایه‌گذاران داخلی و خارجی جهت سرمایه‌گذاری بالای منابع معدنی کشور و همچنان ارایهٔ معلومات در راستای جلوگیری از قاچاق و استخراج غیرقانونی معادن می‌باشد.

در این غرفه، انواع سنگ‌های معدنی، دست‌آوردها و ظرفیت‌های ارزشمند بخش معادن کشور به نمایش گذاشته شد و نماینده‌های وزارت، معلومات لازم را در مورد فرصت‌های سرمایه‌گذاری، پروسهٔ قراردادهای معدنی و فعالیت‌های وزارت را در اختیار مردم قرار دادند. غرفه وزارت معادن و پترولیم در طول برگزاری نمایشگاه، همه‌روزه میزبان صدها تن بوده و با استقبال گسترده مردم، سرمایه‌گذاران، نماینده‌گان سکتور خصوصی و نهادهای داخلی مواجه گردید.

د کندهار والي د ترکیې له سفیر سره پر اقتصادي همکاریو غږېدلی

کابل کې د ترکیې سفیر سادین ای‌یلدیز د کندهار ولایت له والي ملا محمد شیرین اخند سره کتلي او د دواړو لورو ترمنځ د دوه اړخیزو اړیکو، همکاریو او د پراختیایي پروژو پر پیاوړتیا خبرې شوې دي. د کندهار ولایت مقام د رسنیز دفتر د معلوماتو له مخې، په دې لیدنه کې د کندهار والي د افغانستان او ترکیې ترمنځ د تاریخي او دوستانه اړیکو پر لا پراختیا ټینګار کړی او ویلي یې دي، چې د دواړو هېوادونو ترمنځ همکاري کولی شي د اقتصادي او ټولنیزو پرمختګونو لپاره مهم رول ولوبوي. نوموړي له ترکیې غوښتي چې په کندهار او نورو لرې پرتو سیمو کې د روغتیایي خدمتونو ... ۲مخ

پنجشېر کې د ګارنټ او تورمالین د استخراج چارې پیل شوې

د پنجشېر د کانونو او پټرولیم ریاست خبر ورکړی چې په دې ولایت کې د دوو نویو قېمتي ډبرو ګارنټ او تورمالین د استخراج چارې پیل شوې دي. د یاد ولایت د کانونو او پټرولیم

رئیس مولوي محمد قاسم امیري ویلي چې د ګارنټ منرال استخراج ... ۲مخ

تشدید جنگ مرزی
افغانستان و پاکستان در سایه ناکامی دیپلوماسی

ص۲

نړیوال بانک په افغانستان کې د کرنې سکټور د بدلون غوښتنه وکړه

نړیوال بانک په خپل تازه راپور کې ویلي چې د خوړو او کرنې د سیستمونو بدلون کولی شي په افغانستان او سیمه کې د خوړو خوندیتوب پیاوړی کړي، د کار نوي فرصتونه رامنځته کړي او اقتصادي پیاوړتیا زیاته کړي. د راپور له مخې، افغانستان د منځنۍ ختیځ، شمالي افریقا او پاکستان او د نورو هېوادونو په څېر د اقلیمي بدلونونو، د اوبو د کمښت، ښځرو او د خوړو د ناامنۍ له جدي ننګونو سره مخ دی. نړیوال بانک باور لري چې د پراخو پانګونو، د سوداګرۍ د چاپېریال د اصلاح او د خوړو د تولید او وېش د ځنځیر د عصري کولو له لارې به تر ۲۰۵۰ کال پورې د افغانستان په ګډون، په سیمه کې، د خوړو او کرنې په سکټور کې د پنځو میلیونو نویو کاري فرصتونو د رامنځته کېدو امکان برابر شي.

برگزاری نشست نوبتی کمیسیون بررسی شکایات و تخلفات رسانه‌یی

نشست نوبتی کمیسیون بررسی شکایات و تخلفات رسانه‌یی معینیت امور نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ، به رهبری محترم مهاجر فراهی معین امور نشرات این وزارت برگزار شد. در این نشست، درمورد مشکلات رادیوهای تجلا و چنار و همچنان چگونه‌گی رسیدگی به حقوق شماری از خبرنگاران بحث و گفتگو شد و اعضای ... ص۲

سرمقاله

عبدالاحد مومند؛ د افغان ملت علمي ویاړ!

هوښیارانو څه ښه ویلي دي چې: «د زرو قدر له زرګر سره وي.» دا متل یوازې د سرو زرو پر ارزښت نه راڅرخي، بلکې د ملتونو د اصلي شتمنۍ د پېژندلو معیار هم ګڼل کېږي. هغه څوک چې د جګړو، ناامنۍ، فقر او د علمي شخصیتونو د نشتون ترخو پایلو ته رسېدلي وي، له بل هر چا ښه پوهېږي چې د هېواد رښتینې ځواک د پوهې، تخصص او روزل شویو انساني کادرونو په شتون کې نغښتی دی. همدا علمي کادرونه دي چې د هېوادونو د ابادۍ، اقتصادي ودې، علمي پرمختګ او نړیوال حیثیت بنسټ جوړوي او ملتونه د عزت او ځان بسیاینې تر منزله رسوي.

له همدې امله د ملتونو رښتینې شتمني یوازې طبیعي زېرمې، کانونه او مادي امکانات نه دي، بلکې هغه علمي شخصیتونه، متخصصین او مسلکي کادرونه دي چې د خپل استعداد، پوهې او نوښت پر مټ د خپل هېواد نوم د نړۍ تر لوړو علمي او تخنیکي څوکو رسوي. هر نظام چې د خپلې ټولنې علمي پانګه د پرمختګ اساسي محور وګرځوي، د ودانۍ، ثبات او ځانبسیاینې پر لور به له نورو ملتونو چټک او ثابت ګامونه واخلي؛ ځکه د ملتونو راتلونکی له هر څه وړاندې د بشري پانګې پر ځواک ولاړ وي.

اسلامي امارت، د بیا واکمنېدو له لومړیو ورځو راهیسې، همدې ملي اړتیا ته په پام د هېواد د علمي کادرونو، متخصصینو او مسلکي افغانانو د بېرته راګرځولو لپاره عملي او دوامدار اقدامات کړي دي. د تماس کمېسیون په نه ستړې کېدونکو هڅو سره له هغو زرګونو افغانانو سره اړیکې نیسي چې د تېرو څو لسیزو د ناامنۍ، جګړو او بېلابېلو ستونزو له امله له خپل هېواد څخه وتلي دي، څو بېرته خپلې خاورې ته راستانه شي، د امنیت ډاډ ترلاسه کړي او د خپلې پوهې، تجربې او تخصص پر مټ د افغانستان د بیارغونې او پرمختګ په بهیر کې خپله ونډه ادا کړي. دا هڅې په ډاګه کوي چې اسلامي امارت علمي کادرونه د هېواد ستره ملي پانګه ګڼي او د دوی حضور د افغانستان د روښانه راتلونکي لپاره ارزښتناک بولي.

له بده مرغه، په تېرو څو لسیزو کې ګڼ شمېر افغان متخصصین، استادان، ۲مخ

مرحوم عبدالاحد مومند د کابل په مرنجان غونډۍ کې خاورو ته وسپارل شو

افغانستان د لومړني ستورمزلي او د پخواني هوايي ځواک پیلوټ، مرحوم عبدالاحد مومند د جنازې مراسم پرون د کابل په عیدګاه جومات کې د ګڼ شمېر امارتي چارواکو او مسئولینو په حضور کې ترسره شول. ۲مخ

بغلان کې د سترګو زرګونو ناروغانو ته وړیا درملنه پیل شوه

د بغلان د عامې روغتیا ریاست مسئولینو ویلي، چې د ګرځنده روغتیایي ټیم له لورې د یاد ریاست په انګړ کې د سترګو د درملنې وړیا خدمتونه پیل شوي دي. د بغلان د عامې روغتیا رئیس ډاکټر فضل الرحمن رحماني باختر اطلاعاتي آژانس ته ویلي، چې په دغه پروګرام کې د ۴۰۰ ناروغانو د کاتاراکټ عملیاتونه او د ۸۵۰ ناروغانو لپاره معاینه شوې عینکې او ۵ زره نورو ناروغانو ته وړیا معاینات او د درملو ورکړه شامله ده. د سرچینې په خبره: دغه مسلکي ټیم به د روانې چنګاښ میاشتې تر ۲۵مې پورې ناروغانو ته د سترګو وړیا خدمتونه وړاندې کړي. په ورته مهال د بغلان اوسېدونکو د دې پروګرام له پلي کېدو خوښي ښودلې او له مسئولینو یې غوښتي، چې د درملنې دا ډول پروګرام نورو لرې پرتو ولسوالیو ته هم وغځوي.

تشدید جنگ مرزی افغانستان و پاکستان در سایه ناکامی دیپلوماسی

رسول خان امین

تحلیل حقوق بین‌المللِ حملات فرامرزی، مسئولیت دولت‌ها و بن‌بست گفتگو؛ درگیری‌های اخیر در مرز افغانستان و پاکستان که با حملات هوایی پاکستان بر ولایت‌های پکتیا، پکتیکا و کنر همراه بوده، صرفاً یک رویارویی امنیتی میان دو همسایه نیست؛ بلکه نشانه‌ای از تبدیل‌شدن یک بحران مزمن مرزی و امنیتی به منازعه‌ای با پیامدهای جدی حقوقی، انسانی و منطقه‌ای است. گزارش نیویورک‌تایمز از ۲۹ جون ۲۰۲۶ با اشاره به کشته و زخمی‌شدن شمار زیادی از غیرنظامیان و تأیید بخشی از تلفات از سوی یوناما، نشان می‌دهد که هزینه اصلی این تقابل را شهروندان عادی افغانستان می‌پردازند. موضوع اساسی این است که هیچ نگرانی امنیتی، حتی تهدید ناشی از گروه‌های مسلح فرامرزی، مجوز نامحدود برای حمله نظامی در قلمرو کشور دیگر ایجاد نمی‌کند. درست در همین نقطه است که بحران افغانستان و پاکستان از یک اختلاف سیاسی به یک مسئله مهم حقوق بین‌الملل تبدیل می‌شود.

اصل منع توسل به‌زور و مسئله حملات هوایی پاکستان

ماده ۲ بند ۴ منشور سازمان ملل متحد، استفاده از زور علیه تمامیت ارضی یا استقلال سیاسی دولت‌ها را ممنوع می‌داند. حمله هوایی یک دولت به داخل قلمرو دولت دیگر، در حالت عادی، نقض آشکار حاکمیت سرزمین آن کشور محسوب می‌شود. پاکستان ممکن است عملیات خود را با استناد به‌حق دفاع مشروع توجیه کند؛ به‌ویژه با این ادعا که تحریک طالبان پاکستان از خاک افغانستان برای سازماندهی یا اجرای حملات استفاده می‌کند. اما دفاع مشروع، مطابق ماده ۵۱ منشور ملل متحد، شرایط بسیار سختی دارد: وقوع یا تهدید قریب‌الوقوع یک حمله مسلحانه، ضرورت فوری استفاده از زور، تناسب عملیات نظامی با تهدید موجود؛ و رعایت اصول حقوق بشردوستانه؛ بنابر این، صرف وجود یک گروه مسلح در کشور همسایه یا حتی پذیرش مسئولیت یک حمله از سوی آن گروه، به‌خودی‌خود مجوز حملات گسترده و مکرر هوایی نیست.

در گزارش نیویورک‌تایمز، از حمله به ساختمانی در پکتیا سخن گفته‌شده که بافاصله کوتاه زمانی دوباره هدف قرارگرفته است. اگر این موضوع تأیید شود، پرسش مهمی در حقوق بشردوستانه مطرح می‌شود: آیا حمله دوم زمانی انجام‌شده که امدادگران، زخمی‌ها یا غیرنظامیان در محل حضورداشته‌اند؟ چنین وضعیتی می‌تواند اصل احتیاط در حمله را نقض کند؛ و در صورت اثبات هدف‌گیری آگاهانه افراد غیرنظامی یا امدادگران، زمینه بررسی مسئولیت‌های سنگین‌تر حقوقی رافراهم‌سازد.

غیرنظامیان؛ خط سرخی که نباید عادی شود

بر پایه گزارش، مقام‌های افغانستان از کشته‌شدن ۳۶ غیرنظامی و زخمی‌شدن بیش از ۱۶۰ تن سخن گفته‌اند؛ و یوناما نیز کشته‌شدن ۲۸ غیرنظامی، ازجمله زنان و کودکان را تأیید کرده است. اختلاف در آمارها طبیعی است، اما یک واقعیت را تغییر نمی‌دهد: غیرنظامیان در میان قربانیان حضور گسترده دارند. در حقوق بین‌الملل بشردوستانه، سه اصل بنیادین بر عملیات نظامی حاکم است: تفکیک، تناسب و احتیاط. اصل تفکیک دولت‌ها را مکلف می‌کند که در میان اهداف نظامی و افراد یا اماکن غیرنظامی تفاوت روشن بگذارند. اصل تناسب اجازه نمی‌دهد خسارت قابل پیش‌بینی به غیرنظامیان در مقایسه با فایده نظامی مورد انتظار، بیش‌ازحد باشد. اصل احتیاط نیز دولت مهاجم را موظف می‌کند که پیش از حمله، اطلاعات هدف را تا حد ممکن راستی‌آزمایی کند؛ و روش و زمان عملیات را به‌گونه‌ای انتخاب نماید که آسیب به مردم عادی به حداقل برسد. در این چارچوب، ادعای پاکستان مبنی بر کشته‌شدن اعضای گروه‌های مسلح، پاسخ کامل به نگرانی‌های حقوقی نیست. حتی اگر هدف اصلی یک عملیات، افراد مسلح باشد، تلفات غیرنظامی همچنان نیازمند تحقیق مستقل، شفاف و بی‌طرفانه است. دولت‌ها نمی‌توانند با برچسب‌زدن کلی به یک منطقه یا ساختمان به‌عنوان «پناهگاه گروه مسلح»، تعهدات خود را در قبال جان غیرنظامیان کنار بگذارند.

مسئولیت حکومت افغانستان و میراث سیاست‌های امنیتی پاکستان

حکومت افغانستان از منظر حقوق بین‌الملل مکلف است اجازه ندهد قلمرو افغانستان به پایگاهی برای برنامه‌ریزی، تجهیز یا اجرای حملات علیه پاکستان یا هر کشور دیگر تبدیل شود. این تعهد که در ادبیات حقوقی با اصل «ممانعت از استفاده زیانبار از قلمرو» شناخته می‌شود، به معنای مسئول دانستن افغانستان در قبال هر رویداد امنیتی در پاکستان نیست؛ بلکه مستلزم آن است که حکومت حاکم، در صورت وجود شواهد معتبر، برای جلوگیری از فعالیت سازمان‌یافته گروه‌های مسلح فرامرزی اقدام مؤثر، متناسب و قابل ارزیابی انجام دهد.

با این‌همه، پاکستان نمی‌تواند تمام بحران امنیتی خود را به افغانستان منتقل کند؛ و با تکرار اتهام «حمایت کابل از تحریک طالبان پاکستان» برای حملات فرامرزی یا فشار سیاسی مشروعیت بسازد. بخش مهمی از واقعیت این است که پاکستان امروز با پیامدهای سیاست‌هایی روبه‌رو است که در دوره‌های مختلف، برای مدیریت رقابت‌های منطقه‌ای و کسب نفوذ سیاسی و امنیتی دنبال کرده بود. استفاده ابزاری از گروه‌های مسلح، تفکیک میان گروه‌های به‌اصطلاح «خوب» و «بد»، و تکیه بر راه‌حل‌های امنیتی به‌جای نهادسازی سیاسی، فضایی ایجاد کرد که گروه‌هایی مانند تحریک طالبان پاکستان توانستند در آن رشد کنند، شبکه بسازند و به تهدید جدی برای خود پاکستان تبدیل شوند.

از این‌رو، ادعای اسلام‌آباد مبنی بر اینکه امارت اسلامی افغانستان به‌طور سازمان‌یافته از تحریک طالبان پاکستان حمایت می‌کند، بدون ارایه اسناد روشن، قابل راستی‌آزمایی و مستقل، نمی‌تواند به‌عنوان یک واقعیت قطعی پذیرفته شود. وجود پیوندهای فردی، قومی، تاریخی یا ایدئولوژیک میان برخی افراد افغان‌ها و اعضای تحریک طالبان پاکستان، به‌تنهایی دلیل حمایت رسمی یا سیاست دولتی افغانستان نیست. در حقوق بین‌الملل، برای نسبت‌دادن رفتار یک گروه مسلح به یک حکومت، صرف همدلی، نزدیکی فکری یا حضور افراد هم‌تبار کافی نیست؛ باید نشانه‌هایی از هدایت، کنترول مؤثر، دستوردهی، تأمین سازمان‌یافته یا پشتیبانی عملیاتی وجود داشته باشد. بنابراین، افغانستان باید در برابر هرگونه فعالیت مسلحانه‌ای که از خاکش علیه پاکستان انجام می‌شود، موضع روشن و اقدامات عملی داشته باشد؛ اما پاکستان نیز مکلف است ادعاهای خود را با شواهد معتبر ثابت کند و به‌جای حملات هوایی، اخراج جمعی مهاجران و بستن راه‌های تجارت، از مسیر همکاری اطلاعاتی، سازوکارهای مشترک مرزی و تحقیق بی‌طرفانه استفاده کند. راه‌حل بحران، تبدیل افغانستان به متهم دایمی نیست؛ بلکه پذیرش این واقعیت است که امنیت پاکستان نیز تا حدی قربانی سیاست‌هایی شده که خود این کشور درگذشته برای بازی‌های جیوپولیتیک و رقابت‌های منطقه‌ای پرورش داده بود.

ضعف دیپلوماسی پاکستان: امنیت‌محوری بدون نقشه سیاسی

نخستین ضعف دیپلوماسی پاکستان، غلبه نگاه نظامی بر راه‌حل سیاسی است. حملات هوایی ممکن است در کوتاه‌مدت توان عملیاتی برخی گروه‌ها را مختل کند، اما تجربه منطقه نشان داده است که فشار نظامی بدون سازوکار سیاسی و اطلاعاتی مشترک، اغلب به چرخه انتقام، جذب نیروی تازه و گسترش ناامنی منجر می‌شود.

دومین ضعف، پیوند زدن بحران امنیتی باسیاست اخراج گسترده مهاجران افغان و بستن گذرگاه‌های مرزی است. اخراج بیش از یک‌میلیون مهاجر و محدود کردن تجارت، اگرچه ممکن است در داخل پاکستان به‌عنوان ابزار فشار سیاسی مطرح شود، اما از منظر انسانی و راهبردی نتیجه معکوس دارد. چنین سیاستی جامعه افغانستان را بیش از پیش آسیب‌پذیر می‌سازد، بی‌اعتمادی عمومی را افزایش می‌دهد؛ و فضای اجتماعی لازم برای همکاری امنیتی را از میان می‌برد.

سومین ضعف، کمبود شفافیت در ادعاهای نظامی است. پاکستان برای اقناع افکار عمومی منطقه و جامعه بین‌المللی، باید اطلاعات قابل بررسی درباره اهداف عملیات، معیارهای انتخاب هدف، اقدامات احتیاطی و نتایج تحقیقات احتمالی درباره تلفات غیرنظامیان ارائه کند. دفاع مشروع بدون شفافیت، در عرصه دیپلوماسی به‌سادگی به ادعای یک‌جانبه تبدیل می‌شود.

ضعف دیپلوماسی افغانستان: ابهام و فقدان سازوکار عملی

ضعف اول، نبود یک کانال پایدار و حرفه‌ای برای مدیریت بحران است. در منازعات مرزی، حتی زمانی که روابط سیاسی در پایین‌ترین سطح قرار دارد، تماس‌های نظامی، اطلاعاتی و دیپلوماتیک باید فعال بماند تا یک حادثه محدود به بحران بزرگ تبدیل نشود. بسته‌شدن مرزها، افزایش لحن تهدیدآمیز و نبود ارتباط مستقیم، هر خطای محاسباتی را خطرناکتر می‌سازد. ضعف دوم، ناتوانی در تبدیل مسئله امنیتی به یک ابتکار منطقه‌ای است. افغانستان می‌توانست با درخواست نظارت فنی سازمان ملل، ایجاد سازوکار مشترک با پاکستان و چین، یا پذیرش یک هیئت بی‌طرف برای بررسی ادعاهای دو طرف، ابتکار دیپلوماتیک را از دست پاکستان خارج کند. در عوض، واکنش‌ها عمدتاً دفاعی و سیاسی باقی مانده است.

چرا مذاکرات شکست خورده‌اند؟

مذاکرات ارومچی در ماه اپریل، بنا بر گزارش نیویارک‌تایمز، بدون توافق بر آتش‌بس پایان یافت. این ناکامی نشان می‌دهد که دو طرف هنوز بر سر تعریف مسئله توافق ندارند. پاکستان بحران را عمدتاً یک مسئله ضد تروریسم می‌بیند؛ افغانستان آن را نقض حاکمیت و فشار سیاسی ـ اقتصادی می‌داند. تا زمانی که این دو برداشت در یک چارچوب مشترک قرار نگیرند، گفتگوها به تبادل اتهام محدود خواهد ماند.

طرح محرمانه‌ای که در استانبول از سوی دیپلومات‌های پیشین و نمایندگان غیررسمی مطرح‌شده، می‌تواند نقطه آغاز قابل‌توجهی باشد. تأکید آن بر خلع سلاح گروه‌هایی چون تحریک طالبان پاکستان و شاخه خراسان داعش، ازسرگیری تجارت و بازگشت به گفتگوهای رسمی، در اصل سه ضلع بحران را هدف می‌گیرد: امنیت، اقتصاد و سیاست. بااین‌حال، مشکل اصلی این است که ابتکارهای غیررسمی بدون حمایت سیاسی دولت‌ها، ضمانت اجرایی ندارند.

راه خروج: از حمله و انکار به سازوکار مشترک

راه‌حل پایدار نه در حملات هوایی و نه در انکار متقابل است. افغانستان و پاکستان باید یک توافق مرحله‌ای و قابل نظارت ایجاد کند: نخست، توقف حملات فرامرزی و حملات به مناطق پرجمعیت؛ دوم، ایجاد خط تماس فوری میان فرماندهی‌های مرزی؛ سوم، تشکیل هیئت مشترک با حضور یک ناظر بی‌طرف برای بررسی ادعاهای مربوط به فعالیت گروه‌های مسلح؛ چهارم، بازگشایی تدریجی مسیرهای تجاری و انسانی؛ و پنجم، تعریف یک برنامه مشخص برای جلوگیری از فعالیت گروه‌های مسلح علیه هر دو کشور. نقش سازمان ملل، چین، ترکیه و دیگر بازیگران منطقه‌ای باید تسهیلگر باشد، نه جایگزین مسئولیت دو دولت. هیچ میانجی خارجی نمی‌تواند به‌جای کابل و اسلام‌آباد تصمیم بگیرد که امنیت مردم را بر رقابت‌های سیاسی و محاسبات کوتاه‌مدت ترجیح دهند.

درنهایت، حملات اخیر نشان می‌دهد که ناکامی دیپلوماسی فقط به شکست یک نشست یا بی‌نتیجه‌ماندن یک بیانیه محدود نیست. ناکامی دیپلوماسی زمانی آشکار می‌شود که مرز به میدان جنگ بدل گردد، تجارت متوقف شود، مهاجران به ابزار فشار تبدیل شوند و غیرنظامیان هزینه اختلافی را بپردازند که هیچ نقشی در ایجاد آن نداشته‌اند. اگر دو کشور نتوانند از منطق مجازات متقابل به منطق مسئولیت مشترک عبور کنند، بحران مرزی افغانستان و پاکستان نه‌تنها ادامه خواهد یافت، بلکه به یکی از خطرناکترین کانون‌های بی‌ثباتی در منطقه تبدیل می‌شود.

بدخشان کې يو نوی پُل جوړېږي

د بدخشان ولایت د مرکز فیض اباد ښار اړوند د اوومې ناحیې په باغشاه سیمې کې د دوو میلیونو افغانیو په لګښت د یوه پله د جوړېدو چارې پیل شوې دي. د یاد ولایت د کور او ښار جوړولو رئیس مولوي ولي الله الهي د یاد پله د بنسټ د جوړېدو په مراسمو کې وویل چې د یاد پله په جوړېدو سره به د خلکو د تګ راتګ ستونزې تر ډېره بریده حل شي. نوموړي زیاته کړې: دغه پل ۱۲ متره اوږدوالی او ۴ متره پلنوالی لري، چې چارې به یې د یوه پانګوال په مالي ملاتړ د دوو میلیونو افغانیو په لګښت په درېیو میاشتو کې بشپړې او ګټې اخیستنې ته به وسپارل شي. نوموړي وویل: د تېرو دوو کلونو په ترځ کې د بدخشان پانګوالو، په ځانګړې توګه د فیض اباد ښار په بیارغونه کې د خپلو شخصي لګښتونو له لارې لسګونه رغنیزې پروژې پلې کړې دي. د یادونې وړ ده، چې په ژمي کې خلک له ګڼو ستونزو سره مخ وو، خو د یاد پله په جوړېدو سره به د سیمې د اوسېدونکو ډېرې ستونزې هوارې شي.

مرحوم عبدالاحد مومند د کابل ...

د جنازې مراسمو ته یې د اسلامي امارت مسولین، د مومند د کورنۍ غړي او خپلوان او ګڼ شمېر اوسېدونکي د کابل هوایي ډګر ته ورغلي وو. د بهرنیو چارو وزارت د تشریفاتو عمومي رییس ډاکټر عبدالباري عمر وایي، مرحوم عبدالاحد مومند نه یوازې یو علمي شخصیت و بلکې، په هېواد او دین مین شخصیت و چې مړینه یې د هېواد لپاره ستره ضایعه ده. نوموړي زیاته کړې، عبدالاحد مومند لومړی مسلمان ستور مزلی و، چې قرانکریم یې له ځان سره فضا ته یوړ او تلاوت یې کړ. دغه‌راز د مرحوم عبدالاحد مومند مشر ورور پیر محمد مومند د کابل په هوایي ډګر کې د جنازې په مناسبت جوړ شویو مراسمو کې له ټولو مننه وکړه، چې د دوی له کورنۍ سره یې په دې ستر غم کې ځان شریک کړ. بل خوا د پوهنتون استاد محمد اسماعیل یون وایي، عبدالاحد مومند لومړی مسلمان ستور مزلی و، چې قرانکریم یې له ځان سره فضا ته یوړ او تلاوت یې کړ. همدارنګه د کورنیو چارو وزیر سلاکار مولوي عبدالرحیم ثاقب کابل هوایي ډګر کې د افغان ستور مزلی عبدالاحد مومند جنازې مراسمو کې وویل، مرحوم مومند هغه شخصیت و، چې خپل ټول ژوند یې د افغانانو خدمت لپاره تېر کړی و. عبدالاحد مومند څو ورځې وړاندې په جرمني کې د ۶۷ کلونو په عمر مړ شو. د هغه خپلوانو وویل چې هغه د اوږدې ناروغۍ وروسته د سرطان له امله مړ شو. عبدالاحد مومند لومړنی افغان وګړی شو چې په ۱۹۶۰ لسیزه کې فضا ته سفر وکړ، د سویوز پروګرام سره په ګډه فضایي ماموریت کې د میر فضایي سټیشن ته سفر وکړ. دې تاریخي سفر هغه د هېواد لومړنی ستور مزلی کړ.

هغه د غزني ولایت په اندړ ولسوالۍ کې زیږېدلی و او د خپل ژوند وروستي کلونه یې په جرمني کې تېر کړي، خو نوم یې د افغانستان د یو له مشهورو ساینسي شخصیتونو په توګه په تاریخ کې پاتې دی.

عبدالاحد مومند؛ د افغان ...

ځېرونکي او علمي شخصیتونه د ناامنۍ، سیاسي بې‌ثباتۍ او د پردیو د تبلیغاتي جګړې له امله د هجرت ژوند ته اړ شول. د افغانستان دښمنانو تل هڅه کړې چې د وېرې، بې‌باورۍ او بېلابېلو تبلیغاتو له لارې افغان علمي کادرونه له خپل وطن څخه زړه توري کړي، خو د هغوی له پوهې او تجربې څخه پردي هېوادونه ګټه واخلي، خو سره له دې ټولو ناخوالو، د وطن مینه د ډېرو علمي شخصیتونو په زړونو کې ژوندۍ پاتې شوه او افغانستان یې تل د خپل هویت، عزت او ویاړ محور وباله.

له همدې ملي او علمي شخصیتونو څخه یو هم د افغانستان لومړنی او یوازینی ستور مزلی، عبدالاحد مومند و؛ هغه افغان چې د خپل استعداد، زحمت او کلکې ارادې پر مټ یې د هېواد نوم د ځمکې له پولې واړاوه او د ستورو تر نړۍ یې ورساوه. نوموړی په ۱۹۵۹ میلادي کال کې د غزني ولایت د اندړو ولسوالۍ د سردې بند په سیمه کې وزېږېد. د خپلې وړتیا او مسلکي وړتیاوو له امله د ستورمزلو روزنیز پروګرام ته بریالی شو او د ۱۹۸۸م کال د اګست په ۲۹ مه یې د «سویوز TM–٦» فضایي بېړۍ په وسیله خپل تاریخي سفر پیل کړ. عبدالاحد مومند د خپل فضایي مأموریت پر مهال سپېڅلی قرآنکریم له ځان سره فضا ته یوړ او په دې توګه یې نړۍ ته دا پیغام ورکړ چې علم او ایمان یو د بل مخالف نه، بلکې یو د بل بشپړوونکي دي. ده همدارنګه په فضا کې په پښتو ژبه خبرې وکړې او پښتو یې د نړۍ له هغو محدودو ژبو څخه وګرځوله چې غږ یې د ځمکې له فضا څخه واورېدل شو. نوموړي په خپل فضایي سفر کې بېلابېلې علمي تجربې هم ترسره کړې او ثابته یې کړه چې افغان ذهن ته که د زده کړو او پرمختګ مناسب فرصت برابر شي، د ساینس او ټکنالوژۍ له ټولو لوړو ډګرونو ته د رسېدو بشپړ ظرفیت لري.

که څه هم عبدالاحد مومند د وخت د ناامنۍ او سیاسي تحولاتو له امله کلونه په جرمني کې د مهاجرت ژوند تېر کړ، خو د وطن مینه یې هېڅکله له زړه ونه وته. نوموړی د روان ۲۰۲۶ میلادي کال د جون په ۲۱ مه د وروپېښې ناروغۍ له امله په جرمني کې وفات شو. جنازه یې د کورنۍ او اسلامي امارت په همغږۍ خپل هېواد ته راوړل شوه، د رسمي مراسمو په ترڅ کې ورته درناوی وشو او د لوړپوړو امارتي مسئولینو، علمي شخصیتونو او زرګونو هېوادوالو په حضور کې په کابل کې خاورو ته وسپارل شو. دا درناوی یو ځل بیا دا حقیقت څرګندوي چې اسلامي امارت د خپلو علمي شخصیتونو، ملي ویاړونو او تاریخي ارزښتونو قدر کوي او د هېواد ګډه ملي شتمني یې ګڼي.

د عبدالاحد مومند ژوند د نني نسل لپاره یوازې د یوه ستورمزلي کیسه نه ده، بلکې د عزم، ایمان، علم، وطنپالنې او نه ستړي کېدونکي زیار ژوندی مکتب دی. ده په خپل ژوند وښوده چې افغان ځوان، که پر خپل استعداد باور ولري، د زده کړې لپاره هڅه وکړي او خپل هدف ته په کلکه اراده کار وکړي، نو د نړۍ هېڅ علمي او تخنیکي ډګر ورته له لاسرسي څخه لرې نه دی.

نن د هېواد د تعلیمي، تحصیلي او څېړنیزو بنسټونو پر اوږو درنه مسئولیت پروت دی چې د عبدالاحد مومند په څېر شخصیتونه د نوي نسل لپاره د الهام سرچینې وګرځوي، د ساینس، ټکنالوژۍ، فضایي علومو، انجنیرۍ او نورو تخصصي برخو ته د ځوانانو لېوالتیا زیاته کړي او داسې علمي چاپېریال رامنځته کړي چې له همدې خاورې څخه د عبدالاحد مومند په څېر نور فضانوردان، مخترعین، څېړونکي او نړیوال ویاړونه هم وزېږي.

عبدالاحد مومند له دې نړۍ سترګې پټې کړې، خو فکر، اراده او کارنامې یې د افغان ملت د تاریخ په زرینو پاڼو کې د تل لپاره خوندي شوې. د ده ژوند موږ ته دا پیغام راکوي چې د ملتونو تلپاتې ځواک د علم، تخصص او روزل شویو انساني کادرونو په روزنه کې نغښتی دی. که د علم خاوندانو ته درناوی وشي، د هغوی له تجربو څخه ګټه واخیستل شي او د نوي نسل د علمي ودې لپاره پراخ فرصتونه برابر شي، لرې نه ده چې د افغانستان له همدې سپېڅلې خاورې څخه به بیا هم داسې شخصیتونه راوټوکېږي چې د هېواد نوم به د نړۍ تر لوړو علمي څوکو ورسوي. همدا د یو قوي، آباد، پر ځان بسیا او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې د پرمختللي افغانستان د جوړېدو له ټولو ډاډمنه لاره ده.

د یو آباد، سوکاله، پر ځان بسیا او د اسلامي شریعت تر سیوري لاندې د پرمختللي افغانستان په هیله.

برگزاری نشست نوبتی کمیسیون ...

کمیسیون در این زمینه تصامیم لازم را اتخاذ کردند. قابل یادآوریست که کمیته‌هایی برای حل این مشکلات تعیین شدند تا موضوعات را همه‌جانبه بررسی کرده و گزارش نتایج را در نشست آینده ارائه کنند.

له ۸۲ زرو ډېر راستانه شوي ماشومان ...

د ده په خبره، دغه بهیر لا هم روان دی او هره ورځ نوي راستنېدونکي ماشومان د همدې کړنلارې له مخې ښوونیز نظام ته جذبېږي. ده ټینګار کړی: «که کوم زده‌کوونکي د کډوالۍ پر مهال خپل تعلیمي اسناد له لاسه ورکړي وي، د دغو اسنادو نشتوالی د دوی د زده‌کړو د دوام خنډ نه ګرځي. دغه زده‌کوونکي خپل معلومات د کډوالو او راستنېدونکو چارو وزارت له لارې بېرته ثبتوي او د رسمي مکتوب له ترلاسه کولو وروسته یې تعلیمي وضعیت ارزول کېږي او د کړنلارې له مخې د زده‌کړو د دوام لپاره ټولې اسانتیاوې او لازم شرایط ورته برابرېږي.» د ده په خبره: د ښوونې او جوماتونو کمېټه هڅه کوي چې راستنېدونکي زده‌کوونکي هم د نورو زده‌کوونکو په څېر له ټولو ښوونیزو خدمتونو برخمن شي. د اړتیا په صورت کې دوی ته کتابونه، قرطاسیه او نور اړین درسي توکي هم برابرېږي، څو هېڅ ماشوم د اقتصادي ستونزو له امله له زده‌کړو محروم نه شي.

رشد چشمگیر مبادلات تجاری ...

در همین حال، شماری از بازرگانان گسترش مبادلات بازرگانی از طریق راه‌آهن را در کاهش هزینه‌های حمل‌ونقل، افزایش ایمنی انتقال کالا، کوتاه شدن زمان جابه‌جایی و کاهش تراکم در مسیرهای ترانزیتی، مؤثر و بااهمیت می‌دانند. این انتقالات، افزون بر صادرات و واردات میان افغانستان و ازبیکستان، ترانزیت کالاهای روسیه، بلاروس و قزاقستان را نیز در بر می‌گیرد؛ موضوعی که نقش مسیر ریلی افغانستان و ازبیکستان را در گسترش تجارت و ترانزیت منطقه‌ای، بیش از پیش برجسته می‌کند.

د کندهار والي د ترکیې له سفیر ...

د پراختیا، د کرنې او بزګرۍ د ملاتړ او همدارنګه د راستنېدونکو افغان کډوالو د اړتیاوو د پوره کولو په برخو کې خپلې همکارۍ زیاتې کړي. والي همدارنګه له ترکیې څخه د افغان سوداګرو لپاره د ویزو د ورکړې د اسانتیا غوښتنه کړې او ټینګار یې کړی، چې دا اقدام کولی شي د دواړو هېوادونو ترمنځ سوداګریزې اړیکې لا پیاوړې کړي او د صادراتو او وارداتو په برخه کې نوي فرصتونه رامنځته کړي. ورته مهال د ترکیې سفیر سادین ای‌یلدیز د اسلامي امارت د وروستیو پرمختګونو ستاینه کړې او ویلي یې دي، چې ترکیه غواړي له افغانانو سره خپلې مرستې او همکارۍ دوامدارې وساتي. نوموړي زیاته کړې، چې انقره د افغانستان د خلکو د ملاتړ په برخه کې ژمنه ده او هڅه کوي په بېلابېلو سکتورونو کې د همکاریو د پراختیا لپاره عملي ګامونه پورته کړي. په پای کې دواړو لورو ټینګار کړی، چې د ګډو همکاریو د دوام له لارې کولی شي د دواړو هېوادونو اړیکې لا قوي او د خلکو لپاره د پرمختګ نوي فرصتونه برابر کړي.

پنجشېر کې د ګارنټ او تورمالین ...

په عنابې ولسوالۍ او د تورمالین استخراج د حصه اول په ولسوالۍ او مرکز بازارک کې پیل شوې دي. نوموړي زیاته کړې: اوسمهال په دغه ولایت کې پر زمردو سربېره د درې ډوله نورو قېمتي ډبرو د استخراج چارې روانې دي چې پکې بیروج، شین ګارنټ او تورمالین شامل دي. د سیمې یو شمېر اوسېدونکي وایيک د کانونو د استخراج زیاتوالي په ځانګړې ډول د زمردو استخراج د کار فرصتونه زیات کړي او دا د اقتصادي ودې پر ګراف مثبتې اغېزې کوي.

روسي پانګه والو د افغانستان ...

د فابریکو لپاره د توربینونو نوي نصب او پرزو تولید برخو اړوند معلومات د افغانستان برېښنا شرکت عمومي اجرائیوي رئیس سره شریک کړل.

د ناستې پای کې په دې پریکړه وشوه چې روسي پانګه وال به د پانګونې راجلبونې او ملاتړ ریاست سره د ګډو ناستو تر څنګ د برېښنا تولید فابریکو تخنیکي مطالعاتو په موخه خپلې لومړنۍ ارزونې له نږدې پیل کړي.

افغان اعـــلانات

اطلاعیه لیلام داغمه جات وزارت مالیه

وزارت مالیه بــه تاریخ ۱۴۰۵/۵/۳ به تعداد (۷۷۲) قلم اجناس داغمه (مثل میز وچوکی، تخته، وسایل تکنالوژی، کمپیوتر، پرنتر، پرزه موتر، ماشین موتر، بطری موتر، تایر موتر و سایر اجناس) به شمول ۲۵ عراده موتر ســایکل را میخواهد به بلندترین قیمت به نفع امارت اســلامی لیلام نماید، داوطلبان میتوانند به تاریخ مذکور در مرکز قطعه محافظت گمرکات واقع پلچرخی حاضر و یا به شماره تلیفون (۰۷۸۰۶۲۵۴۳۸) به تماس شوند پول تضمین، ۱۵ فیصد قبل از شروع داوطلبی نقداً اخذ میگردد.

اعلان لیلام اجناس داغمه

قراراست ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرسانی و فاضلآب شهری به تعداد (۴۵۲) قلم اجناس داغمه خویش را ساعت ۱۰:۰۰ قبل از ظهر مورخ ۱۴۰۵/۰۴/۲۰ روزشنبه باحضورداشت هئیت های موظف لیلام نماید. اشخاص انفرادی وشرکت های تجارتی خواهان خریداری آن را داشته باشند میتوانند به تاریخ متذکره به ریاست اجرائیوی شرکت امارتی آبرســانی وفاضلاب شهری واقع سرتپه کارته نو ناحیه هشتم شهرکابل مراجعه‌نمایند.وسلام

یادداشت: پانزده فیصد پول تضمین اشتراک ازداوطلب اخذ میگردد.

شماره های تماس: ۰۷۷۱۴۱۳۴۷۲ / ۰۷۶۴۵۶۵۰۶۸

اعلان داوطلبی

وزارت مالیه امارت اســلامی افغانستان از تمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید تا در داوطلبی پروژه ترمیم بام آمریت حوزه های یازدهم و پانزدهم مالیاتی ریاست مالیه دهندگان کوچک دارای نمبر تشخیصیه MOF/1405/NCB/W-2001 که بــه روش داوطلبی باز داخلی صورت میگیرد اشتراک نموده و شرطنامه را به لسان های دری و پشتو از آدرس ذیل مطابق شــرایط شــرطنامه، قانون عقود ادارات امارتی و طرزالعمل تدارکات عامه اجــراء میگردد بدست آرند.

تاریخ مشخص آفرگشایی: ۲۷/ ســرطان/۱۴۰۵ ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر

آدرس: پشتونستان وات– وزارت مالیه- کابل افغانستان.

منزل و شماره اطاق: منزل دوم تعمیر معینیت اداری، شعبه آفرگشایی.

آدرس: سایت رسمی اداره تدارکات ملی، ریاست محترم عمومی اداره امور ۱.۱.۱ (https://tenders.ageops.af)،

شماره تماس دفتر: ۰۲۰۲۹۲۴۰۴۶.

آفرهای دیر رسیده و انترنتی پذیرفته نمیشود.

اطلاعیه‌مفقودی

اسناد مربوط به رهنمای معاملات شامل سته ها، لوحه و اصل جواز از رهنمای معاملات (نوی فراه) به اسم نور احمد فرزند عبدالمجید دارنده جواز نمبر ۹۹۷ واقع ناحیه ۱۵ شهر کابل مفقود گردیده است. بنا اسناد دفتر متذکره فاقد اعتبار می باشد. ۳۲۷۲

اطلاعیه فسخ جواز رهنمای معاملات

اســامی محترم سید مجتبی فرزند سید جمال الدین ولدیت سید ضیا الدین دارنده جواز نمبر (۴۶۶۴) مورخ ۱۴۰۴/۹/۲۴ متصدی رهنمای معاملات (کابل کهن) واقع (مقابل کوچه مکتب بی بی ســارا) ناحیه (۱۵) شاروالی کابل خواهان فسخ جواز خویش گردیده که بعد از نشر اعلان رهنمای مذکور فاقد اعتبار قانونی بــوده هر گاه ادارات دولتی و اشخاص انفرادی بالای موصوف ادعای حقوقی به ارتباط فعالیت جواز مذکور داشته باشــند بعد از نشر اعلان الی مدت یک هفته به ریاست عمومی انسجام، وزارت عدلیه اطلاع دهند. ۳۲۶۹

اطلاعیه‌مفقودی

یک قطعه جواز تجارتی شرکت الماس سفید نوین لمتید نمبر ۷۸۹۰ به اسم محمد یوسف فرزند سردار محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۸۵

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد کتابچه صفایی خانه واقع ناحیه سیزدهم برچی به اسم محمد عیسی فرزند عبدالعزیز مفقود گردیده از اعتبار ساقط میباشد. ۳۲۶۸

د لیلام خبرتیا

موضوع: د افغانستان د خوندي اسنادو د چاپ امارتي شرکت د ٤٧ قلمه داغمه اجناسو د لیلام خبرتیا!

پدې اســاس، خبرورکــول کیږي؛ د افغانســتان د خوندي اســنادو د چاپ امارتي شــرکت په پام کې لري، چې ٤٧ قلمــه داغمه توکي په ١٤٠٥/٠٤/٢٤ نیټه د چهارشنبه په ورځ لیلام د پروسی له لارې خرڅلاو (مزایــدې) ته وړاندې کړي، ټول حقیقي او حکمي کســان چې د یادو اجناســو د پیرلو غوښتنه کوي په ټاکل شوې نیټه دې د سهار (۰۹:۰۰) بجو د چهلستون عمومي سړک، د جنګلک پخوانی فابریکه، اوومه ناحیه د افغانســتان د خوندي اســنادو د چاپ امارتي شرکت ته دې تشریف راوړي د اړتیا په صورت کې کولای شــی (۰۲۰۲۵۲۷۵۲۱) شمیري سره اړیکه ونیسي.

پــه پای کې د افغان اعلاناتو محترم اداري څخه هیله کیږي؛ د اعلان د نشر او خپراوي حق الزحمه د آویز او کټینګ د تسلیمیدو څخه وروسته د دغه شرکت مالي او اداري محترم ریاست څخه ترلاسه کړي.

بادونه: (۱۵٪) پنځلس فیصده تضمین د داوطلبی د شروع څخه مخکې نغداً اخیستل کیږي.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد یوسف بابر فرزند مینگ علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سمیع الله نوابی فرزند عبدالصبور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم گلب الدین امیری فرزند امر الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حبیب الله غفوری فرزند طلا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نعمان فرزند صفی الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم محمد اکرم حیدری فرزند غلام صفدر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نظر محمد ناصری فرزند دین محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد باقر محمدی فرزند محمد ابراهیم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم سخی مراد براتی فرزند شیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم نجیب الله الکوزی فرزند سردار محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم افضل شاه قربانی فرزند فخر الدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم اکرام فرزند عبدالغیاث مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور محمد روزی فرزند پیغمبر قل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بادر آغا فرزند لاله میر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اســم مونا اچکزی بنت آصف مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم سارا بنت بصیر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۶۸۷۰

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نور احمد فرزند عبدالرحمن مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ذبیح الله رحمانی فرزند محمد اکرم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ساحل عرب زی فرزند فضل کریم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم جمشید عباسی فرزند محمد حسین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم ابوالفضل عباسی فرزند جمشید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم شــمال فرزند پاینده خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد راشد فروتن فرزند محمد آغا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد الیاس احمدی فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اســم محمد احسان فرزند لعل جان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم عبدالله صابر فرزند محمد عمر مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حشمل عرب فرزند حیات مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالستار ترکمن فرزند نعمت الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت ســیاحتی به اسم شیرین هاشمی بنت سید سرور مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم نیاز محمد برکت فرزند برکت مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم مهدی شهاب فرزند رجب مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم سید حسین فرزند سید جمشید مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۶۹۰۸

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم سید ظریف جعفری فرزند سید عابدالدین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم گل محمد احمدی فرزند احمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم احمد شاه فرزند محمد دین مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاســپورت سیاحتی به اسم صفی الله فرزند امان الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم ضیا الدین رحمانی فرزند عبدالجلیل مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بسم الله رازقی فرزند برات محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم فیصل ایوبی فرزند غلام علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عطا محمد فرزند امیر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم طالب جان خرمی فرزند سید علی مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اســم جان آقا فرزند در محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم حکمت الله امیری فرزند رحیم الله مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم عبدالمنان فرزند محمد علم مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اســم داد خدا امیری فرزند دادی خان مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم بصیر احمد نظری فرزند نظر محمد مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم محمد عیسی عیار فرزند خان لالا مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد.

اطلاعیه‌مفقودی

یک جلد پاسپورت سیاحتی به اسم شریف عصمتی فرزند عبدالرزاق مفقود گردیده از اعتبار ساقط می باشد. ۶۹۷۹

دعوت به داوطلبی مجدد

عنوان: تهیه و تدارک ٤٠ قلم روغنیات و فلترباب مورد ضرورت سال مالی ١٤٠٥ وزارت شهرسازی و مسکن

شماره دعوتنامه داوطلبی: MUDH/1405/NCB/G-1307

وزارت شهر سازی و مسکن ازتمام داوطلبان واجد شرایط دعوت مینماید، تا درپروسه تهیه و تدارک ٤٠ قلم روغنیات و فلترباب مورد ضرورت سال مالی ١٤٠٥ اشتراک نموده وسافت شرطنامه مربوط را به طور رایگان از ریاست تدارکات، وزارت شهرسازی و مسکن به دست آورده، ویا ازطریق سایت (سیستم تدارکات الکترونیکی افغانستان) شرطنامه رادانلود نموده، آفر های خویش را مطابق شرایط مندرج شرطنامه و طبق قانون و طرزالعمل تــــدارکات طور ســر بسته از تاریخ نشر اعلان الی ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر مورخ ١٤٠٥/٤/٢١ به ریاست تدارکات وزارت شهرسازی و مسکن واقع در مکروریان سوم، مقابل مطبعه آزادی ناحیه نهم شهر کابل، افغانستان ارایه نماید. آفر های ناوقت رسیده و انترنیتی قابل پذیرش نمی باشد.

تضمین آفر به شــکل تضمین بانکی مبلغ ۹۱۰۰۰ نود و یک هزار افغانی و جلسه آفرگشایی به ساعت ۱۰:۰۰ قبل ازظهر مورخ ١٤٠٥/٤/٢١ در مسجد شریف وزارت شهرسازی و مسکن تدویر میگردد.

شماره	معیارات ارزیابی	
۱	حجم معاملات	قابل تطبیق نیست
۲	تجربه مشابه	قابل تطبیق نیست
۳	سرمایه نقدی	مبلغ (700,000) افغانی
۴	تضمین آفر	مبلغ (91,000) افغانی

نوت: (۱): پول نقد به عنوان تضمین آفر پذیرفته نمیشود. (۲): شرطنامه بصورت سافت به داوطلبان توزیع میگردد.

اعلام نتایج کانکور؛ ده‌ها هزار ...

ولایت غور با کسب ۳۲۷ نمره مقام نخست، خالد از ولایت بدخشان با اخذ ۳۲۰.۴۵ نمره مقام دوم، حامد از ولایت لغمان با اخذ ۳۱۹.۱۵ نمره مقام سوم، امان‌الله از غور با اخذ ۳۱۸.۹۷ نمره مقام چهارم و حامد با اخذ ۳۱۷ نمره مقام پنجم را کسب کرده‌اند. مولوی عبدالسلام حنفی، معاون اداری ریاست‌الوزراء در این نشست گفت که امروز شاگردان پس از تحمل تمام مشکلات حاصل زحمات خود را می‌گیرند. او تصریح کرد که اداره ملی امتحانــات در مرکز و ولایات به صورت منظم آزمون کانکور را اخذ کرد و شــاگردان با موفقیت آن را سپری کردند. موصوف افزود کــه در آزمون کانکور امســال بیش از ۱۱۷ هزار شــاگرد و طلبا اشتراک کرده‌اند. شیخ عبدالباقی حقانی در این نشست گفت که امروز روز خوشحالی جوانان کشور اســت تا نتایج ۱۲ ساله خود را بگیرند. موصوف تصریح کرد که اساس و بنیاد کشورهای مترقی علم و گزینش شخصیت‌های خوب در مکان مناسب می‌باشد. حقانی اضافه کرد که وقت در آزمون کانکور زیاد شده بود و برای هر متقاضی تا چهار ساعت زمان داده شــد. او خاطرنشان کرد که سوالات کانکور از سوی استادان متخصص ساخته شده بود و تخصصی بودند. مولوی حیات‌الله مهاجر فراهی، معین نشرات وزارت اطلاعات و فرهنگ در این نشست گفت که اشتراک ۱۱۷ هزار تن در آزمون کانکور تبلیغات دشمنان کشور را ناکام نشان می‌دهد. او اضافه کرد در تمام بخش‌های کشور کارها به‌صورت عادی جریان دارد و یکی از آنان آزمون کانکور است.

د ملي دفاع وزیر د امنیت په ټینګښت ...

په مورال ورکولو ســره د سرحدونو د ســاتنې او دفاع په برخه کې پر لا زیاتو هڅو او چمتووالي ټینګار کړی. د دفاع وزیر د یاد ســفر پر مهال تېره ورځ له هغو مهمو او ستراتېژیکو سیمو هم لیدنه وکړه، چې له چین، تاجیکستان او ډیورنډ فرضي کرښې سره نښتې دي.

نړیوال شریکان دې د روغتیایي ...

بنســټونو ملاتړ حیاتــي اهمیت لري او باید هڅې زیاتې شــي څو په ولســوالیو کې عامه روغتونونه جوړ شي او خلکو ته اساسي روغتیایي خدمتونه په نږدې توګه ورسېږي. نوموړي همدارنګه د پولیو د له منځه وړلو په برخه کې د ګډو هڅو د دوام غوښــتنه کړې او ټینګار یې کړی، چــې د دې ناروغۍ د مخنیوي لپــاره باید همغږي لا پیاوړې شــي. د عامې روغتیــا وزارت وایي: دا دولت ناســتې د روغتیایي همکاریو د پراختیا او د افغانســتان د روغتیایي سیستم د ښه والي لپاره مهمې بلل کېږي.

کندز کې د عامه پوهاوي او د اصلاحات ...

ترڅنګ ولاړ دي او له اســلامي امارت څخه خپل ملاتړ څرګندوي. د ګډونوالو په استازیتوب آغامیر ناصري هم د یاد سفر هرکلی وکړ او داډ یې ورکړ، چې د قوانینو د ښه تطبیق، د ټولنیزو ناهنجاریو د مخنیوي او خلکو ته د عامه پوهاوي په برخه کې به له اړوندو ادارو ســره هر ډول همکاري وکړي. د سیمه‌ییزو مسئولینو په وینا، په کندز ولایت کې د امر بالمعروف او نهی عن المنکر ریاست د محتسبینو د دوامدارو هڅو په پایله کې د یو شمېر ټولنیزو ناهنجاریو کچه راټیټه شوې او د اصلاحاتو او عامه پوهاوي لړۍ په دوامداره توګه روانه ده.

تأکید والی فاریاب بر تقویت بخش ...

مناسب سرمایه‌گذاری شــدند. والی فاریاب با تأکید بر اهمیت بخش خصوصی گفت که تقویت این بخش، افزایش ســرمایه‌گذاری و توسعه فعالیت‌های تولیدی و تجارتی، زمینه ایجاد فرصت‌های شــغلی، رشد اقتصاد محلی و بهبود وضعیت معیشتی شهروندان را فراهم می‌سازد. وی اطمینان داد که مشکلات مطرح‌شده با هماهنگی ادارات ذیربط بررسی شده و برای رفع آن‌ها اقدامات لازم صورت خواهد گرفت.

لغمان کې ۲۸ لویې او وړې شخړې ...

نومــوړي زیاته کړه: «د عالیقدر امیرالمؤمنین «حفظه الله تعالی» د ۱۳ او۱۷ ګڼې فرمانونو د تطبیق په اړه له قومونو سره ۶ سترې غونډې ترسره شوې دي.» د ده په وینا: «د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو په دفتر کې له قومونو ســره ۱۲ ناستې ترسره شوې، د ولایت بېلابېلو ولســوالیو ته ۲۸ ســفرونه شــوي، چې موخه یې د قومونو ترمنځ د یووالــي پیاوړتیا او د جرګو دایرول وو.» نوموړي وویل: «د بشــري مرســتو په موخه د مرکز او ولسوالیو ۱۳۱۰ تنه کوچیان اړوندو ادارو ته ور وپېژندل شــول، ۱۰۳۳ پېژندپاڼې کوچیانو ته وویشل شوې او په بېلابېلو برخو کې ورته اړین خدمات هم وړاندې شــول.» سیاسي شنونکي، عبدالله نوري، شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې د اسلامي امارت د اداراتو مسئولین د ولســونو ستونزې خپلې ستونزې ګڼي او شــپه او ورځ خلکو ته خدمات وړاندې کوي. نوموړي زیاته کړه: «د اســلامي امارت له بیا واکمنېدو وروسته د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د ولسونو ترمنځ د کلونو کلونو شخړې د جرګو او افغاني دودونو له مخې حل شوې، خلک یووالي ته رابلل شوي او بېلابېل خدمات ورته وړاندې شوي دي.»

سمیع الله مومند

Shariat Daily

Shariat
Published by
Islamic Emirate of Afghanistan
Eng, Uzair Baryaly ، Director of Gov.dailies
0202526340
Chief Editor : M. Munir Farooqi
Email: info@shariatdaily.com
WWW.shariatdaily.com :ویب سایت

شریعت
د امارتي ورځپاڼو رئیس:
انجنیر عُزیر بریالی / ۰۲۰۲۵۲۶۳۴۰
مسئول مدیر: محمد منیر فاروقي / ۰۷۶۴۸۰۸۲۰۵
مسئول سکرتر: رفیع الله رؤفي/ ۰۷۹۵۰۰۰۳۱۰
ډیزاین: بصیر احمد امیري / ۰۷۹۲۶۰۹۰۶۲
د شریعت برښنا لیک: info@shariatdaily.com
پته: اتمه ناحیه، د المپیک څلور لارې، د حضوري چمن ختیځ، کابل ـ افغانستان
شماره توزیع و شکایات: ۰۲۰۲۳۱۲۵۰۹ / ۰۷۶۶۰۴۴۹۶۶/ ۰۷۳۱۶۰۶۰۷۳

Tuesday 07 July 2026 / Established: 1995 / 2nd Season / Vol: 2000

اعلام نتایج کانکور؛ ده‌ها هزار جوان به تحصیلات عالی راه یافتند

ادارۀ ملی امتحانات نتایج امتحان کانکور سال ۱۴۰۵ را اعلام کرد و گفت که از میان فارغان مکاتب، راشد از ولایت پروان با به‌دست آوردن ۳۶۰ نمره و از میان فارغان مدارس دینی، عبدالمجید از ولایت غور با کسب ۳۲۷،۱۹ نمره مقام‌های نخست را از آن خود کرده‌اند. ادارۀ ملی امتحانات نتایج آزمون سراسری کانکور سال ۱۴۰۵ شمسی را با حضورداشت مقام‌ها در مرکز رسانه‌های حکومت در شهر کابل اعلام کرد. براساس معلومات ادارۀ ملی امتحانات، اول‌نمرۀ عمومی امتحان کانکور امسال راشد ولد پهلوان با کسب ۳۶۰ نمره از ولایت پروان به پوهنتون طبی ابو علی سینا راه یافته‌است. همچنین، انعام‌الله از فارغان مکتب در کنر با کسب ۳۵۸.۰۹ نمره مقام دوم، عبدالهادی از فارغان مکتب در پکتیا با کسب ۳۵۶.۹۶۷ نمره مقام سوم، محمد ایمن از میدان‌وردک با کسب ۳۵۶.۹۶ نمره مقام چهارم، و بسم‌الله جان از ولایت میدان‌وردک با کسب ۳۵۶.۵۸ نمره مقام پنجم را به‌دست آورده‌اند. همچنان، از بخش مدارس دینی عبدالمجید از ... ص۳

د ملي دفاع وزیر د امنیت په ټینګښت کې د سرحدي ځواکونو پر رول ټینګار وکړ

د دفاع وزیر مولوي محمديعقوب مجاهد بدخشان ولایت ته د سفر پر مهال د اشکاشم ولسوالۍ د ۱۵مې سرحدي لوا له لومړي سرحدي کنډک څخه لیدنه کړې او د دفاعي ځواکونو کړنې یې له نږدې ارزولې دي. د ملي دفاع وزارت ویلي: ښاغلي مجاهد افغان ځواکونو ته ... ۳مخ

د عامې روغتیا وزیر: نړیوال شریکان دې د روغتیايي خدمتونو په پیاوړتیا کې همکاري وکړي

د عامې روغتیا وزیر نور جلال جلالي له نړیوالو روغتیايي شریکانو غوښتنه کړې چې په افغانستان کې د روغتیايي خدمتونو د پراختیا، د ولسوالیو په کچه د عامه روغتونونو د جوړولو او د مهمو ناروغیو د درملنې په برخو کې خپلې همکارۍ زیاتې کړي. د عامې روغتیا وزارت د معلوماتو له مخې، جلالي دا غوښتنه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) په مشرۍ له یوه لوړپوړي نړیوال روغتیايي پلاوي سره په لیدنه کې کړې ده. په دې لیدنه کې د روغتیايي سکتور د اوسني وضعیت، د موجودو ستونزو او د همکارۍ د لا پیاوړتیا پر لارو چارو خبرې شوې دي. د وزارت په وینا، په ناسته کې په ځانګړې ډول د پولیو پر وړاندې د مبارزې د هڅو پر دوام، د سرطان او زړه ناروغیو د درملنې د پروژو پر پراختیا او همدارنګه لرې پرتو سیمو ته د روغتیايي خدمتونو د رسولو پر زیاتوالي ټینګار شوی دی. جلالي ویلي، چې د هېواد د روغتیايي سیستم د پیاوړتیا لپاره د نړیوالو ... ۳مخ

کندز کې د عامه پوهاوي او د اصلاحاتو د پیاوړتیا لپاره مشورتي غونډه ترسره شوه

د امر بالمعروف، نهي عن المنکر او شکایتونو اورېدو وزیر شیخ محمد خالد حنفي کندز ولایت ته د سفر پر مهال د بدخشان، تخار، کندز او بغلان ولایتونو د سیمه‌ییزو مسئولینو، دیني عالمانو او قومي مشرانو په ګډون په یوې غونډه کې د امر بالمعروف او نهي عن المنکر د قوانینو د تطبیق وضعیت وڅېړه او د قانون د لا اغېزمن پلي کېدو او د خلکو د ستونزو د حل په موخه یې اړوندو مسئولینو ته لازمې سپارښتنې وکړې. شیخ محمد خالد حنفي وویل: د دې سفر موخه د نوي توشېح شوي قانون د اغېزمن تطبیق لپاره د مناسبې زمینې برابرول، په ټولنه کې د منکراتو مخنیوی، د اړوندو ادارو ترمنځ د همغږۍ پیاوړتیا او د خلکو ستونزو ته رسېدنه ده.

په همدې غونډه کې د کندز والي مولوي نصرالله مطیع د وزیر او ورسره مل پلاوي هرکلی وکړ او ویې ویل، چې د کندز خلک تل د نظام ... ۳مخ

تأکید والی فاریاب بر تقویت بخش خصوصی و رفع موانع سرمایه‌گذاری

ملامحمدحنیف‌حمزه، والی‌فاریاب، در دیدار با رئیس صنعت و تجارت و برخی تاجران و صنعت‌کاران شهر میمنه، بر حمایت از سرمایه‌گذاری و توسعه فعالیت‌های تجارتی تأکید کرد. در این دیدار، طرفین پیرامون توسعه تجارت، سرمایه‌گذاری و چالش‌های موجود در این بخش گفتگو کردند. تاجران و صنعت‌کاران ضمن قدردانی از تلاش‌های رهبری مقام ولایت در راستای حمایت از بخش خصوصی، مشکلات و نیازمندی‌های خود را مطرح کرده و خواستار همکاری بیشتر اداره محلی برای رفع موانع فراروی فعالیت‌های اقتصادی، توسعه‌صنعت و فراهم‌سازی زمینه ... ص۳

لغمان کې ۲۸ لویې او وړې شخړې هوارې شوې

شریعت: د لغمان ولایت مسئولینو شریعت ورځپاڼې ته ویلي، چې د مرکز په ګډون د دغه ولایت په بېلابېلو ولسوالیو کې یې په تېرو څو میاشتو کې ۲۸ لویې او وړې شخړې حل او فصل کړې دي. د لغمان ولایت د سرحدونو، قومونو او قبایلو چارو آمر، مولوي نورالهادي چپاو، شریعت ورځپاڼې ته وویل: «په تېرو څو میاشتو کې د لغمان ولایت د ولسونو ترمنځ ۲۸ بېلابېلې شخړې او دښمنۍ پای ته رسېدلې دي.» نوموړي زیاته کړه، چې د قومونو ترمنځ د سولې او یووالي د پیاوړتیا په موخه د لغمان ولایت بېلابېلو ولسوالیو ته سفرونه شوي او له قومي مشرانو سره ۱۰ لویې ناستې ترسره شوې دي. ده وویل: «د لغمان ولایت ولسونه د اسلامي امارت له مسئولینو خوښ دي او خپلې شخړې د جرګو او قومي مشرانو په منځګړیتوب حلوي.» ... ۳مخ

د لوګر والي د مس عینک کان د استخراج د ژر پیل کېدو غوښتنه وکړه

د لوګر والي صلاح‌الدین ایوبي د مس عینک کان د قراردادي شرکت (MCC) له مسئولینو سره په کتنه کې د یاد کان د استخراج چارو پر ژر پیل کېدو ټینګار کړی او ویلي یې دي چې د افغانستان دولت او ولس د دې سترې پروژې د عملي کېدو غوښتونکي دي. نوموړي ویلي چې د لوګر اوسېدونکي د دې کان له لارې د کاري فرصتونو غوښتنه لري او باید د استخدام پر مهال دوی ته لومړیتوب ورکړل شي. په دې کتنه کې د(MCC)شرکت مسئولینو ویلي چې د بربېښنا او اوبو کمښت د پروژې له مهمو ننګونو څخه دي. دوی ویلي، چې د دغه کان د استخراج چارې به ژر پیل شي. همداراز د دغه شرکت مسئولینو ویلي چې د ظرفیت لوړونې لپاره به یو شمېر افغان انجنیران چین ته هم واستول شي.

ترکیه کې د ناټو پر ضد لاریونونه؛ له ۱۰۰ څخه زیات کسان نیول شوي

رویټرز راپور ورکړی، چې د ترکیې حکومت د هېواد د کمونیست ګوند له خوا د ناټو ضد اعتراضونو په ترڅ کې له ۱۰۰ څخه زیات کسان نیولي دي. دا په داسې حال کې ده، چې ټاکل شوې ترکیه نن او سبا د ناټو د غونډې کوربه وي. د کمونیست ګوند غړو له دې غونډې مخکې لاریونونه کړي، چې په ترڅ کې یې د خپرو شویو ویډیوګانو له مخې معترضان داسې شعارونه ورکوي: «ناټو قاتل دی، زموږ له هېواد څخه ووځئ». چارواکي وايي چې د دغو لاریونونو په تړاو نیونې د امنیتي تدابیرو د سختولو په چوکاټ کې ترسره شوې دي.

د ایران او قطر ترمنځ سمندري سوداګریزه لاره بېرته خلاصه شوه

الجزیرې راپور ورکړی، چې د ایران د دیر بندر او د قطر د الرویس بندر ترمنځ د توکو د لېږدرالېږد سمندري لاره له پنځه میاشتني ځنډ وروسته بېرته پرانیستل شوې ده. د راپور له مخې، دغه لاره د ایران پر وړاندې د امریکا او اسرائیلو د جګړې له امله تړل شوې وه، خو اوس په دوحه کې د ایران د سفارت او قطري چارواکو ترمنځ د همغږۍ په پایله کې بیا فعاله شوې ده. ویل کېږي، د جګړې پر مهال پر دیر بندر څو ځله بریدونه شوي وو، چې له امله یې دا سمندري لاره تړل شوې وه.

در پی حمله رژیم اسرائیل بر غزه دو فلسطینی شهید شدند

مقام‌های صحی در غزه اعلام کردند که در پی حمله هوایی رژیم اسرائیل بر شهر غزه، دو فلسطینی شهید و چندین تن دیگر زخمی شدند. براساس گزارش رویترز، این حمله گروهی از افراد را در سرک عمر المختار، واقع در مرکز شهر غزه هدف قرار داد. از سویی هم، شبکه الجزیره گزارش داده که یک نوزاد چهارماهه فلسطینی پس از آن جان خود را از دست داد که نظامیان اسرائیلی مانع انتقال فوری او به مرکز درمانی شدند. بر اساس گزارش، این رویداد در یکی از محل‌های تالاشی نظامی در غرب رام‌الله کرانه باختری اشغالی رخ داده است. در گزارش آمده که نظامیان اسرائیلی با شلیک کپسول‌های گاز اشک‌آور به سمت مردم و موترها، این کودک فلسطینی را از دسترسی فوری به مراقبت‌های صحی محروم کردند.

د اوکراین پوځي تأسیسات د روسیې تر سختو بریدونو لاندې راغلي

روسي ځواکونو د اوکراین پر پلازمېنه کیف او څو نورو ولایتونو پراخ توغندیز او ډرون بریدونه کړي دي. د اوکرایني چارواکو په وینا، په دغو بریدونو کې استوګنیزې ودانۍ زیانمنې شوي، اورلګېدنې رامنځته شوي او د ملکي تلفاتو راپورونه هم ورکړل شوي دي، په داسې حال کې چې د ژغورنې ډلې د خلکو د لټون او ژغورنې عملیات روان ساتلي دي. بل لور ته د روسیې د دفاع وزارت ویلي چې بریدونه یوازې پر پوځي او صنعتي هدفونو ترسره شوي دي. دغه بریدونه د دواړو هېوادونو ترمنځ د جګړې د لا شدت په لړ کې شوي دي، چې پکې دواړه لوري یو بل د حیاتي زېربناوو پر، په نښه کولو تورنوي.

باران‌های شدید در بمبئی باعث تعطیل مکاتب و لغو پروازها شد

مقام‌های محلی، اعلام کرده که در پی بارندگی‌های شدید، شش تن در شهر بمبئی هند جان باخته و پروازها با اختلال گسترده روبه‌رو شده است. خبرگزاری رویترز، دیروز گزارش داده که این بارندگی‌ها همچنان باعث اختلال در رفت‌وآمد، تعطیلی مکتب‌ها و رانش زمین در بمبئی شده است. افزون بر حمل‌ونقل جاده‌ای، پروازها نیز مختل شده و خدمات قطارهای بین‌شهری، از جمله خطوط بمبئی-پونا، لغو شده اند.